د افغانستان اسلامي امارت

## له عدليې وزارت څخه سترې محکمې ته

## د حقوقو څانګې د لېږدولو طرحه

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د ۲۸/ ۳/ ۱۴۴۴ نېټې (۹۳۲) ګڼه حکم سره سم د اسلامي شریعت د لانبه حاکمیت په موخه د کړنو د ښې همغږۍ او اغیزمندتیا، د محاکمو د فیصلو، حکمونو او تصمیمونو په موقع تنفیذ او تطبیق او په بهترینه وجه د ملت او امارت د حقونو ترلاسه کولو په موخه دا طرحه ترتیب او د منظورۍ لپاره د مشرتابه عالي مقام درانه حضور ته وړاندې کېږي.

**<u>د صلاحیتونو لیږد</u>**

**لومړۍ ماده:**

(۱) د عدلیې وزارت په چوکاټ کې د حقوقو څانګه من بعد له تشکیل او اصولي صلاحیتونو سره یو ځای د سترې محکمې د تشکیل په چوکاټ کې د خپلو ټولو اصولي صلاحیتونو اجراء ته ادامه ورکوي.

(۲) ستره محکمه د عدلیې وزارت او نورو اړوندو ادارو په همغږۍ مکلفه ده چې اړوند اصولي سندونه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله د ۲۸/ ۳/ ۱۴۴۴ نېټې (۹) ګڼه فرمان پر بنسټ ژر تر ژره له پړاوونو تېر او نهایي کړي.

**<u>بودجه</u>**

**دویمه ماده:**

(۱) د مالیې وزارت مکلف دی د عدلیې وزارت د ۱۴۰۱ مالي کال له پاتې بودجې څخه د حقوقو د څانګې بودجه د سترې محکمې بودجې ته تعدیل او انتقال کړي.

(۲) د مالیې او عدلیې وزارتونه او ستره محکمه، مکلف دي چې د بودجې د لېږدولو لپاره ټول هغه تدابیر په کار واچوي چې د حقوقو څانګې د کارکوونکو د معاشاتو په توزیع کې هیڅ ډول ځنډ را منځ ته نشي.

**<u>د تشکیل او کارکوونکو پرخه لیک</u>**

**دریمه ماده:**

(۱) د حقوقو د څانګې د ۱۴۰۱ کال مرکزي او ولایتي تشکیل له ټولو مسلکي او خدماتي کارکوونکو سره یو ځای په کامل ډول د سترې محکمې د مرکزي او ولایتي تشکیل چوکاټ ته لېږل کېږي.

**د شتمنیو او سندونو لېږد**

**څلورمه ماده:**

(۱) د سترې محکمې د اداري معاون په مشرۍ، په لاندې ترکیب جوړې ګډې کمېټې ته دنده سپارل کېږي چې؛ له عدلیې وزارت څخه سترې محکمې ته د حقوقو څانګې اړوند د ټولو وسائلو، وسائطو اجناسو، رسمي سندونو او اړوندو دوسیو د لېږدولو په موخه لازمې کړنې ترسره کړي:

۱- د عدلیې وزارت مالي او اداري مرستیال د غړي په توګه؛

۲- د سترې محکمې مالي او اداري رئیس د غړي په توګه؛

۳- د عدلیې وزارت د حقوقو عمومي رئیس د غړي په توګه؛

۴-د عدلیې وزارت مالي او اداري رئیس د غړي په توګه؛

۵- د سترې محکمې د بشري سرچینو رئیس د غړي په توګه؛

٦- د عدلیې وزارت د بشري سرچینو رئیس د غړي په توګه؛

۷- د مالیې محترم وزارت با صلاحیته استازی د غړي په توګه؛

۸- د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې با صلاحیته استازی د غړي په توګه.

(۲) یاده کمېټه د سندونو او دوسیو د لېږدولو په موخه له خپل لزوم دید سره سم کاري ډلې جوړه وي.

(۳) کمېټه مکلفه ده چې د حقوقو د څانګې ټول وسائل، وسائط، اجناس او رسمي سندونه د فهرست په ډول مربوطو اوړو دوائرو ادارو د ذیصلاح مقاماتو له توافق وروسته انتقال کړي.

(۴) کمېټه مکلفه ده چې د انتقال مکمله پروسه د دوه میاشتو په دننه کې ترسره کړي.

**انفاذ**

**پنځمه ماده:**

دا طرحه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظهُ الله له منظورۍ سره سمه نافذېږي، اړوند وزارتونه او ادارې یې د بشپړ تطبیق په برخه کې د لازمو اصولي تدابیرو په نیولو مکلف دي.

**له عدلیې وزارت څخه سترې محکمې ته د حقوقو څانګې د لېږدولو د طرحې د ترتیب پلاوی:**

| | |
|---|---|
| شیخ الحدیث نورالحق انور | د چارو اداري د لوی ریاست سرپرست او د پلاوي مشر. |
| مفتي حزب الله ابراهیمي | د ا.ا.ا د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو لوی رئیس او د پلاوي غړی. |
| مولوي عبدالله کالف | د عدلیې وزارت د حقوقو لوی رئیساو د پلاوي غړی. |
| مفتي رحمت الله حلیم | د عدلیې وزارت د بشري سرچینو رئیساو د پلاوي غړی. |
| مولوي عبدالکریم کریمي | د ا.ا.ا د سترې محکمې د تدقیق او مطالعاتو ریاست مدقق او د پلاوي غړی. |